پوهندوی آصف بهاند
۲۰۱۶/۱۱/۱۸

# د مطالعې په دودولو کې یو نوی ګام

د یوې ټولنې هغه وګړي چې په راتلوکې باندې عقیده او باور لري، تل هڅه کوي چې په ټولنه او خلکو کې د سواد، تحصیل، کار کولو، د تولید فکر او ورسره د مطالعې کچه لوړه کړي. د همدې هڅو په لړ کې زموږ د میډیا په بیلابیلو برخو کې د چیز فهمه غړو له لوري تل دا هڅه شوې چې مطالعه په ټولو خلکو کې په یوه منلي دود باندې بدله شي. د همدې هڅو یوه ښه بیلګه مې د ۲۰۱۶ کال د اکتوبر په دوه ویشتمه نیټه په فیسبوک کې له نظره تیره شوه. دا جملې او عکسونه ښاغلي Mahmood Saeed محمود سعید په خپله پاڼه کې اینبي وو:




«په نوره نړۍ کې د سرک په غاړه دا ډول واړه، وړیا کتابتونونه دي. خلک کتابونه اخلي؛ لولي يې او بېرته خپله کتاب یا يې پر ځای بل کتاب ایږدي.
که موږ هم وکړای شو لږ تر لږه یو له بل سره کتابونو د لوستلو له پاره بدل کړو یا په ځینو سیمو کې دا ډول تجربې وکړو؛ ډېرې به ګټورې وي»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ




په عکسونو کې چې له لرګیو جوړې وړې کوټنۍ له کتابونو ډکې لیدل کیږي، په اړخو نو باندې یې دا له مینې او مهربانۍ ډکې جملې لیکل شوي دي:
ــ وړوکی وړیا کتابتون،
ــ یو کتاب ولولئ،
ــ یو کتاب شریک کړئ،
ــ یو کتاب بیرته را وګرځوئ.

د ښاغلي محمود سعید د دې پوست په کامنتونو کې ځینو هیواد والو خپل نظریات داسي څرګند کړي وو:«
ــ محمود سعید وروره د کتاب په هکله ستاسو ژوره مینه ستایم!،
ــ بهترینه مشوره:
که مطالعی ته مخ کړو ایله به وطن جوړ شي،
ــ دلته که جوړ شي ټول به خلک وري په چپس پلورونکو به یې خرڅوي،
او...»
د ښاغلي محمود سعید د فیسبوکي ملګرو دا څو بیلګې چې ما د نمونې په ډول را واخیستې، لیدل کیږي چې دا نظرونه زموږ پر ټولنه باندې د حاکمو اخلاقو په تله برابر دي. د مطالعې د کلتور د عامیدو له پاره هم مثبت نظریات شته او هم داسې نظریات شته چې کتاب د مطالعې له پاره نه، بلکې د سوځولو(در ګران) او یا د شیانو (چپس یا نور خوراکي توکي) د تاوولو له پاره کارول کیږي.
اوس نو په داسې یو حالت کې هغه ډله چې د سواد، مطالعې او پوهې پلویان دي، څه باید وکړي؟
دوی سره ښایي چې له پراخي حوصلې نه کار واخلي او د خپل انساني هدف د پوره کولو له پاره له خنډونو سره، سره خپل کار ته دوام ورکړي. کتاب باید تر هغه چا پورې ورسول شي چې د لوستلو مینه او علم د تر لاسه کولو تلوسه او هیله ولري، کتاب باید هغه چا ته په لاس ورکړل شي چې په قدر یې پوهیږي او دا کار په پراخي پیمانې شوی او کیږي چې غوره بیلګه یې د قلملار ټولنې(ویسا وورنه)
انساني فعالیتونه دي چې په ټول افغانستان کې یې تر اوسه په زر ګونه او لکونه ټوکه کتابونه تر هغه چا پورې رسولي دي چې لولي یې او اړتیا ور ته لري.
البته دا ډیره اړینه ده په دې باب هم فکر وشي چې د کتابونو په چاپولو او خپرولو په مسأله کې زموږ د ټولنې دې ګوډ او مات اقتصاد ته په کتو سره، د چاپ او خپرولو له پاره داسې لیکنې، مقالې او کتابونه انتخاب کړای شي، چې هغه لوستونکي ته یو څه ورکړي، داسې څه ورکړي چې د وړاندې تګ له پاره یې په اوسنی زمانه کې د لارې څراغ شي، نه داسې څه چې په هغه باندې مصرف وشي، په چاپولو او لوستلو یې وخت ضایع شي، خو د لوستوکو په تیره نوي نسل فکري تګلورې په نا سمه لار ور برابر کړي او په دې ډول له کتاب یا مقالې یا چاپ شوي متن نه بیخي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

منفي نتیجه تر لاسه شي او یا داسي مبهم وي چي هیڅ مانا و نه لري. د دغسي مبهم متن یوه وړه بیلګه ښاغلي محمود سعید د بل چا له پاڼي را پور کړي ده:
«دلته په داسي کتابونو هم پیسي، وخت، کاغذ او ماغزه (که درلودل يې!) مصرف شوي دي.
انځور د آغلي سویتا له پاڼي»


برېښنايي اپلټي

## - ګرانه دغه !

- دغه دی . دا څو دغه کیږي چی دغه دی هیڅ نه مالومیږي . دغه خوبه وي . اوچیرته به ددغه پس دغه یي .
- ما دغه ویلي چی . دا دوه ورځي کیږي چی دغه دی نه لرم . هسی می دغه تشویش دغه شو چی خدای مه که دغه شوی نه وي .
- دامی هم دغه کول چی دغه شم اولیږ پوه شم . چی دکتاب په هکله دی له چا سره خبري وکری اوکه نه . خکه چی یو دغه دی چی خلاص شي اودغه دغه غوځ شي .
- که یو بنه دغه پیدا شي چي اپدیت یی کا دغه به وي اوکه نه وي نو دغه سره می خبره کری ده دغه اسد سره هغه را سره دغه وکره . چی زه به یی پر یو چا دغه کرم . اوچی دغه می کر بیا به یی دغه کرم . ایسته
- زما تکت دغه شو زه به له خیره دخپل ال ومال سره دمی په لومری نیته دغه وکم اودمی په دریم تاریخ به هلته په لندن کي دغه شم اوبیا به ستا مبارک حضور ته دغه شم . نور خو به انشا الله دغه وي .
- نور دی په هماغه دغه سپارم چی دا تول عالم یی دغه کری دی . اوبه دي تول عالم کي یی ته هم دغه کري یی اوزه یی هم دغه دغه کرم . اوداسی دغه یی راته اوس په مغزو کي را ته دغه کري دي چی بس مه کوه دغه
- ستا دغه . داپریل ۲۳

14

زه فکر کوم چي د مطالعي د دود د عاملو په برخه کي محمود سعید ډیر فعاله دی. دا يې په فیسبوک کي د مطالعي له پاره یو پوست دی:

«باور وکړئ کتابونه تر هر څه ارزانه دي. که هره ورځ ۱۰ افغانی ځانګړي کړو؛ په میاشت کي دوه د منځنی بیي کتابونه اخستلی شو. په کتابونو پیسي نه ورکیږي.»

په یو بل پوست کي محمود سعید د مطالعي له پاره داسي پټه ښودلي ده:
«کتابتون ته په لسګونو نوي علمي او مالوماتي کتابونه پورته شوي دي. ورشئ؛ وړیا يې تر لاسه کړئ او ويي لولئ.»
البته که د محمود سعید فیسبوک پاڼي ته ځوک سر ور ښکاره کړي، تر نورو پوستونو يې د مطالعي او کتاب په باب د پوستونو تله درنه ښکاري او د کتاب او مطالعي په باب تل داسي مثبت نظریات شریکوي چي د ټولو په کټه وي. دغي لاندي مشورې ته يې پام وکړئ:

«دغه کتاب که نه وي ژباړل شوی؛ ښه به وي چي وژباړل شي.
البته یو بل خبر کړئ چي د دوو کسو وخت ضایع نه شي.»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ




د محمود سعید د همدې پوست لاندې څو تنو ځوانانو په ډېره مینه د ژباړلو وعده کړې او د چاپولو د بار اوچتولو وعده په دې ډول کړې ده:«

ــ دا چې هر څوک ژباړي، چاپ ته يې زه اوږه ورکوم او نور يې هم نازوم.
ــ ما خو مخکې وویل چې زه يې ژباړلو ته وخت ورکوم، خو داسې نه چې بل چا پرې شروع کړې وي.»

زه فکر کوم دا کار یو ساده او عادي مدیریت ته اړتیا لري چې د سپانسور او ژباړن کارونه منسجم کړای شي کتاب چاپ او تر لوستونکو پورې ورسول شي.
په پښتنو کې د مطالعې د کلتور ضَعف یا نشتوالی یوه محسوسه ستونزه ده چې ډېر ځلې په نښه شوې ده. محمود سعید هم دې نیمګړتیا ته اشاره کړې ده:

«د نړۍ په هر ګوټ کې مهم خپرېدونکی کتاب په ډېره لنډه موده کې پارسي ته ژباړل کېږي؛ په یوه ورځ پلورل کېږي او بیا د کلونو په اوږدو کې لسګونه ځله چاپېږي. د کتابونو د پلورل کېدلو ګټه دا ده چې ژباړونکي ورته کار وايي او له مالي اړخه پرې بسیا کېږي.
دلته په شپېته میلیونه پښتنو کې د یوه علمي کتاب زر ټوکه ایله په یوه یا څو کلونو کې په ډېره سختۍ پلورل کېږي.
که څه هم بیه يې د یوه څاښت خواړه وي.»
«پښتانه د کتابونو پېرلو او لوستلو دود نه لري؛ ځکه نو له نورو ژبو د کتابونو ژباړلو بهیر پخ روان دی. حتی ډېر باسواده پښتانه هم د نړۍ د غوره کتابونو د نه لوستلو له کبله له یوه ډېر ستر نعمته محروم دي.»

له دې سره، سره بیا هم محمود نه دی مایوسه او د مطالعې د دود د رواجیدو او پوهې د تر لاسه کولو له پاره داسې توصیه هم کوي:

«ځوانان باید هغه پیسې چې د انرژۍ په ښنلو، قیلون او سګرټ څکولو او نورو روغتیا ضد خوړو ورکوي؛ په کتابونو ورکړي. په دې ډول به خپله معنوي او د هېواد د کتابونو او لیکوالۍ دواړو پانګې ځواکمنې کړي.»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

که ښه پام وکړو او حقیقت ته ځیر شو، په ټولنه او خلکو کې  د سواد او مطالعې رواجیدل، د ژوند په هره برخه کې کولای شي مثبت بدلون راولي، کولای شي د شخص، اشخاصو، کورنۍ او ډیرو خلکو ژوند وژغوري. یو وړوکی او لنډ مثال به یې وړاندې کړم:
په ښځینوو کې د تیو سرطان او په نارینوو کې د پروستات سرطان یو ډیر عامه او شایع نا روغي ده یو ډاکتر په ډیره روانه او نرمه ژبه د تیو د سرطان رامنځ ته کیدل او مخنیوي په باب ډیره علمي څه لیکي، د ناروغۍ څرنګوالی، د مخنیوي طریقه او... ښیي، خو که سواد نه وي او و نه لوستل شي، نو ګټه به یې څه وي. لکه زموږ په ټولنه کې چې ډیره سلنه خلک سواد نه لري او که لري یې هم داسې اړینو لیکنو ته بیا یا لاسرسی نه لري او یا یې لولي نه.

د محمود سعید د فیسبوک پاڼې ډیره سلنه پوستونه د مطالعې د دود د عامیدو او د نوي نسل د نوې روزنې په موخه شوي دي. دې لاندې څو جملو ته یې پام وکړئ:

«تر هغه چې تر ټولو زیاته پانګونه په زدکړو او د نوي نسل په روزنه ونه شي؛ افغانستان به باثباته او افغانان به سوکاله نه شي. که هر څومره زیات تورفکري ووژل؛ ورټل او وشړل شي؛ په مقابل کې یې څو برابره نور روزل کیږي او د دې ټولنې او خلکو په ضد کارول کیږي.
**له زرګونو کالو راهیسې جګړې ګټو او سرونه بایلو خو د جګړو په مخنیوي او عواملو کله هم فکر نه کوو.»**

زه یې داسې انګیرم چې که د محمود سیعد او قلملار ټولنې د فعالیتونو په څیر د زړه له کومې د کتاب د خپرولو، د مطالعې د کلتور د دودولو او د تعلیم د تر لاسه کولو د فکر د عامولو له پاره کار وشي، لرې نه ده چې دا خلک به یوه ورځ د مطالعې او زدکړو له لارې، له دې اوسنیو بدمرغیو خلاص او د ترقۍ لوړو پوړیو ته به ځان ورسوي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ